# د بدر منیر وفات

## د قام، ثقافت او فلمي صنعت زیان

اکبر هوتي اېډوکېټ



یو خوا کۀ دا وخت وطن د بارودو په ډېري پروت دے او هر خوا وینې توئېږي، امن تالا ترغه دے نو بل خوا د وطن اهم اهم سیاسي ادبي او ثقافتي وګړي هم جدا کېږي او هاغه وګړي چې د خپلو صلاحیتونو په بنیاد ئې د قام سترګې وچتې کړې دي، په دې کښې د پښتو نامتو اداکار نړېوال شهرت لرونکے بدرمنېر هم د یادونې وړ دے.

بدر منېر د فالج د رنځ له کبله د تېرو څلور کالو راهسې بیمار ؤ او اخر په 11 اکتوبر 2008 د زړۀ د دورې له کبله ئې دا دنیا د همېشه همېشه دپاره پرېښوده او په اقبال ټاؤن لاهور کښې خاورو ته وسپارلے شو.

بدرمنېر په 1942 کښې په شاګرام سوات کښې د مولوي یاقوت خان کره پېدا شو، په ماشومتوب کښې ئې پلار دې د سر ډېرو چارسده یوه مدرسه کښې د دیني علومو د زدکړې دپاره داخل کړو خو دغلته ئې زړۀ ونۀ لګېدو او کراچۍ ته وتښتېدو، په کراچۍ کښې ئې محنت مزدوري کوله، د رکشې ډرائیور هم پاتې شوے وۀ، دغه وخت د فلمونو جوړولو مرکز کراچۍ وۀ او د اردو فلمونو ښۀ دور ؤ.

د بدر منېر شکل صورت ډېر ښۀ ؤ نو په 1966 کښې دوي په اردو فلمونو کښې کار شروع کړو. دا هم وئیلے شي چې دې د مشهور اداکار وحید مراد سره ملازمت کولو او بیا د هغۀ په مدد دۀ د لائټ مېن په حېث کار شروع کړو خو په بدرمنېر د قسمت ښاپېرۍ هغه وخت مهربانه شوه چې کله ډائرېکټر عزیز تبسم د پاکستان د تاریخ اولنے پښتو فلم "یوسف خان شېربانو" چې یو ریکارډ ساز فلم ثابت شو، په دې فلم کښې بدرمنېر د خپلې بهترینې

اداکارۍ په بنیاد خپل یو حېثیت جوړ کړو او خپل ځان ئې د فلم انډسټرۍ یو ضرورت وګرځولو. په دې فلم کښې د پښتو مشهوره اداکاره یاسمین خان د دۀ هېروئین وه چې بیا وروستو د بدرمنیر او یاسمین خان یوه مشهوره فلمي جوړه وګرځېده.

د یاسمین خان نه علاوه بدرمنیر د مسرت شاهین، سنیتا خان، سبا شاهین، زمرد، شهناز سره هم یو ځائے کار کړے دے. د پښتو نه علاوه بدرمنیر د اردو مشهور فلمونو کښې هم کار کړے دے چې پکښې "برف گرتي هے"، "دل والے"، "روشني"، "دشمني"، "چیخ"، "دو چور، "ډاکو" او "جان کی بازی" د یادولو وړ دي.

د اردو او پښتو سره ئې په پنجابي فلمونو کښې هم د خپلو صلاحیتونو مظاهره کړې ده. د کمال خبره دا ده چې بدرمنیر د انګرېزۍ ژبې په یو فلم کښې هم کار کړے دے خو د هغۀ ریکارډ پوره راقم ته په ګوتو نۀ دے راغلے. په خپل **33** کاله دور کښې بدرمنیر قریباً په **750** فلمونو کښې اداکاري کړې ده.



د اداکارۍ نه علاوه هغه قریباً په **20** فلمونو کښې پروډیوسر هم پاتې شوے دے. "دلهن ایک رات کي" د بدرمنیر یواځینے فلم ؤ چې په یو وخت په دوؤ ژبو پښتو او اردو کښې چلېدو.

بدرمنیر په صحیح معنو کښې د پښتونخوا دلیپ کمار ؤ. د بدر منیر دا اعزاز د پښتنو دپاره د فخر او ویاړ خبره ده چې د هغۀ نوم د ګینز بک آف ورلډ ریکارډ دپاره منتخب شوے دے.

بدرمنیر ته دا اعزاز هم حاصل دے چې هغه د اردو او پنجابۍ ژبې مېرمنې اداکارې پښتو فلمونو کښې معرفي کړې. د بدر منیر د ژوند اخرنے فلم "لېونے" ؤ، اوس اوس حکومت د بدرمنیر د صلاحیتونو په اعتراف کښې هغه له د پرائیډ آف پرفارمنس اېوارډ ورکولو خو هغه د هغې اعزاز نه مخکښې خاورو ته وسپارلے شو.

بدر منیر نه دوه بیبیانې، څلور ځامن اسد منیر او عدنان منیر، دلبر منیر او څلور لونړه پاتې شوې.

د بدرمنیر په تلین نۀ یواځې چې پښتو فلمي صنعت ته لوئے زیان ورسېدو بلکې پښتنانۀ په قامي توګه هم د زیان سره مخ شو، ځکه چې د بدرمنیر غوندې با صلاحیته فنکارانو د قام او وطن نوم ساتلے دے. د ګنیز بک آف ورلډ ریکارډ دپاره د هغۀ نامزدګي د ټول قام نمائندګي ده او دغه اصل خدمت دے چې د یو وګړي په کردار ټول قام یاد شي.

بدرمنیر په یو داسې وخت کښې په فلمي دنیا کښې قدم کېښودو چې د پښتو فلمونو رواج نۀ ؤ او کۀ ډائرېکټر عزیز تبسم نۀ وے او بدر منیر نۀ وے نو کېدے شي چې پښتو فلمي صنعت وجود کښې نۀ وے راغلے او دا د بدرمنیر برکت ؤ چې دغه وخت ئې د "یوسف خان او شېربانو"، "دهقان"، "اوربل"، "

د يدن"، "مېرنے ورور"، "د دشمن کلے"، "سرې لمبې"، "جوار گر"، "گڼ کپ" او داسې نور د ښۀ معيار پښتو فلمونه وکړل او د خلقو توجه ئې پښتو فلمونو پله راواړوله. د دغې دوه گټې وې يو خو په اقتصادي توگه گټه پښتنو ته راتله او بله د پښتو ژبې او کلتور خدمت کېدو، دا هاغه وخت ؤ چې دا فلمونه به خلقو د عبرت د پاره کتل او لوئے سبق به ئې ترې اخستلو.

د بدرمنير اداکاري د حقيقت سره بالکل نزدې وه او دا د هغۀ کمال ؤ چې د خپلې ژوندۍ اداکارۍ له کبله ئې په زرگونو مئينان پېدا کړي وو، بلکې د هغۀ په نوم ئې فېډرېشن هم جوړ کړے دے. بدرمنير د پښتو داسې يوائينے اداکار دے چې د هغۀ د نوم نه واړۀ ماشومان هم خبر دي بلکې د نورو ژبو خلق هم بدرمنير پېژني.

بدرمنير صرف يو اداکار نۀ ؤ بلکې هغه يو سماجي کارکن هم ؤ او د خير ښېگړې په کارونو کښې ئې حصه اخستله.

د شوکت خانم مېموريل هسپتال په چنده مهم کښې د ټولو نه اهم کردار هم د دې شخصيت ؤ. دا د پښتون قام خوش بختي وه چې داسې قسمه فنکاران ئې پېدا کړي دي چې هم د دوي په قابليت د دې قام شناخت او پېژندگلو جوړه وه.

اوس خو بدرمنير زمونږ ترمينځه نشته خو د هغۀ کردارونه يادونه مونږ سره شته او پکار ده چې پښتون قام د خپلو ملي اتلانو، مبارزينو سره سره خپل قامي فنکاران، سندرغاړي، لوبغاړي ياد ساتي. د دوي د زېږېدنې او تلين نېټې نمانځي ځکه چې دا د ژوندو قامونو نخښې دي. په دې لړ کښې حکومت له هم پکار دي چې په سرکاري سطح د خپلو ملي اتلانو، مبارزينو او خپلو ملي فنکارانو، سندرغاړو او لوبغاړو ورځې په سرکاري سطح ونمانځي.

په سرکاري سطح د بدرمنير مزار جوړول پکار دي، يوائې د بدرمنير نۀ بلکې د هاغه ټولو اديبانو، فنکارانو، شاعرانو او سندرغاړو چې اوس زمونږ ترمنځه نشته، ځکه چې دا د قام سرمايه ده او د قام سرمايه په عزت سره ساتل قام په عزت سره ساتل دي او کۀ داسې ونۀ شي نو دا به د پښتون قام ډېره بدقسمتي وي.

* **




د پروفېسر محمد اسلام ارماني کتاب "خط مې راغلے د جانان دے" مارکېټ ته راورسېدو.